# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com    www.afgazad.com

| ادبی - فرهنگی | Literary - Cultural |
| --- | --- |



لیکوال: لایق جان خوستی - قاهره

۱۸ جولای ۲۰۱۶

## د افغانستان کثیر التألیف شخصیت
## پروفیسور "عبدالله بختانی" د ۱۲۵ اثارو خاوند




لیکوال او شاعر پروفیسور عبدالله بختانی ما هغه وخت وپیژندو چې په قاهره کښې د افغانستان سفارت له خوا د بختاني صاحب «د دین څو ستوري» په نوم کتاب چاپ شو، مخکې ددی چې ښاغلی پروفیسور عبدالله بختانی خدمتګار وپیژنم ما ویل چې په افغانستان کښې د پوهاند حبیبی څخه زیات آثار څوک نلري، خو د پروفیسور بختانی خدمتګار ژوند ته په نظر کولو سره پوه شوم چې مونږ لا هم داسی شتمنې  لرو چې ژوندي دي او مونږ یې نه پیژنو، شاید داسی ډېر ځوانان وي چې د بختاني خدمتګار صاحب په شان لوي هستي نه پیژنی، ځکه ماهم وپتیله چې د پروفیسور بختیاني په هکله یو څو کرښې ولیکم.

عبدالله جان د ملا آقا جان طبيب زوی د ۱۳٤۳هـ ق کښي د ننګرهار ولايت د سره رود (سرخرود) په چهار باغ صفا کښي زيږيدلی، لومړنۍ زده کړه يې له خپل مور او پلار نه پيل کړی او بيا د نورو استادانو څخه يې پر مخ بيولی ده .

څېړنپوه عبدالرحيم بختاني د استاد بختاني زوي د خپل پلار په هکله داسي ليکي: عبدالله بختاني عربي ديني علوم ، فقه ، تجويد ، تفسير ، حديث ، اصول فقه ، اصول حديث ، عقايد ، ميراث ، صرف و نحو ، بديع ، بيان ، معاني حکمت او منطق يې د ننګرهار او کابل په اولسي مدرسو کښي د کابل عربي درالعلوم د نصاب په معيار لوستي دي او د «مولوي» درجی ته رسيدلی دی، فارسي او عربي ادبيات ، پخوانی طب او رياضي درسونه يې د هغه وخت د اولسي مدرسو په معيار سرته رسولي دي، تاريخ ، جغرافيه ، فزيک ، کيميا او بيالوژي يې (د بکلوريا په معيار) په شخصي توګه مطالعه کړي ده، په فلسفه ، ټولنپوهنه ، سياست او سيکالوژۍ کښي يې پراخه مطالعه کړې ده .

په پښتو شعر او ادب کښي يې لاربښود استاذان ، استاد ګل پاچا الفت ، استاد قيام الدين خادم ، استاد صديق الله رښتين او استاد عبدالرؤوف بينوا دی .

عبدالله بختيانی په روسي ژبه پوره بلديت لري، د روسي ژبي او ادبياتو زده کړه يې د لومونو سوف په نامه د مسکو په دولتي پوهنتون کښي په ۱۹٦۳ ميلادي کال کښي تر سره کړي ده ، او د ژبې د تدريس او درسي موادو دتيارولو د ميتود په برخه کښي يې د ډيپلوم تر لاسه کړی دی.

نوموړي د خپل ژوندانه زياته برخه د هيواد په علمي، تعليمي، څېړنيزو، ادبي، ژورناليستي او ملي خدمتونو کښي تيره کړي ده، په دې لړ کښي ۲۳ کاله په پښتو ټولنه او ١٤ کاله د علومو اکاډمۍ کښي په علمي څېړنيزو فعاليتونو بوخت پاتي شوی دی .

پورفيسور بختانی د ۱۳۲٥ هـ ل کال د حمل په لسمه د دولت د ماموريت لړۍ د ننګرهار ولايت د پوهني مديريت د ۱۱ مي رتبي مامور په توګه پيل کړی، په ۱۳۲٦ هـ ل کال د ننګرهار د مطبوعاتو په مديريت کښي د ننګرهار د ولايت د مرکز د مامورينو د پښتو کورسونو د استاد په حيث مقرر شو، دغه کورسونه رسماً د پښتو ټولني پوری مربوط وو.

د ۱۳۳۱ هـ ل کال د اسد په مياشت کښي د زيري جريدې مسئول مدير او د پښتو ټولنی مسلکي غړی شو .

د ۱۳۳٤ هـ ل کال نه تر ۱۳۳۹ هـ ل کال پورې په ترتيب سره د ننګرهار د مطبوعاتو د مديريت مرستيال او د پښتو کورسونو آمرو، چه پښتو ټولنی پورې مربوط و، د ننګرهار مجلې مسئول مدير، د مطبوعاتو د مستقل رياست د نشراتو د رياست مسلکي غړی، د ننګرهار د مطبوعاتو لوی مدير او د ننګرهار ورځپاڼي مسئول چلوونکی او بيا دوهم ځل د ننګرهار مجلي مسؤول مدير په توګه يې دندي تر سره کړي دي .

په ۱۳۳۹ هـ ل کال کښي د پښتو ټولنی مسلکي غړی شو . ددغي ټولني د ادبياتو لوی مدير او بيا د رئيس مرستيال شو او په ۱۳٥٤ هـ ل کال کښي يې د څيړندوی علمي درجه تر لاسه کړه.

وروسته د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کښي د هيواد ورځپاڼی مسئول مدير، د پښتو د پراختيا او پرمختيا د اداري آمر، د خلکو د فرهنګ ( فولکلور ) د ادارې آمر، د پکتيا د مجلې مسؤل مدير، د هيواد د ورځپاڼی رئيس او سر محرر په توګه وظيفي تر سره کړي دي.

په ۱۳٦٤ هـ ل د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي غړی شو، دوه کاله د علومو اکاډمۍ د غړيتوب سره د افغانستان د ليکوالو د ټولني د رياست مرستيال او لومړی منشی و او بيا د علومو اکاډمی د علمي غړي په توګه پاتی شوی دی .

په ۱۳۷۳ هـ ل کال کښي متقاعد شوی استاد د ذکر شویو وظیفو تر څنګ وخت په وخت په ښوونځیو او کورسونو کښي د پښتو، دري او عربي ژبو تدریس کړی او د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي د پښتو ادبیاتو تاریخ د استاد په حیث خدمت کړی دی .

په ۱۳۸۲ هـ ل کال کښي یو څه موده د افغان یووالي د اونیزې مسؤل مدیر و، او په هماغه کال د علومو اکاډمۍ د ضرورت له مخه تقاعد یې رفع او د ۱۳۸۵ هـ ش د سنبلې تر پیله پورې یې ددې اکاډمی د مشر علمي غړي په توګه خپلو علمي وظایفو ته دوام ورکړی او بیا تقاعد ورکړی شوی دی .

الحاج امین الدین سعیدي چې د دکتور مولوي محمد سعید « سعید افغاني » زوی دی، د استاد بختاني په هکله داسی لیکي: ښاغلی عبد الله خدمتګار زما د مرحوم پلار دکتور سعید افغاني نږدې دوست اوملګری وو.

هغه په کال ۲۰۰۷ میلادي کې د جرمني دکولن ښار ته د یو فرهنګي سفرپه ترڅ کې ددی فرصت مساعد شو چې دهغه سره وګورم او په ضمن کی دهغه څخه مي اجازه واخیسته چې دهغوی د ژوندلیک په هکله یوه لیکنه نشر کړم.

فاضل استاد عبدالله بختیانی خدمتګار ددغه رسالې په پوښ باندې، په خپل خط او قلم داسي ولیکل :

**د محفل یاران چې ټول وي او زه نه یم**
**د کاغذ تصویر ته ګورئ او ما یاد کړئ**

د استاد بختاني وروستنئ دولتي رتبه مافوق ده، استاد په ۱۳۵۵ هـ ل کال کښي د پښتو ټولنې لخوا د څېړندوی لوړه علمي درجه تر لاسه کړې ، وروسته د علومو اکاډمۍ لخوا دغه علمي درجه د سر محقق په علمي درجه و اوښتله او په همدې درجه ومنل شو ، چه دغه درجه د پوهنتون د پوهاند یا (( پروفیسر )) د درجي سره معادله وه.

د استاد بختاني د زیږېدو اتیایمه کلیزه د افغانستان د علومو اکاډمی له خوا په یوه درنه علمي غونډه کښي نمانځل کیدله، د افغانستان د علومو اکاډمۍ لوی رئیس پخپله پرانیستونکي وینا کښي وعده ورکړه چه نوموړي استاد ته د ((اکاډمیسین)) د علمي درجي د ورکولو په باب لوړو مقاماتو ته وړاندیز کوي.

استاد بختاني د هېواد او سیمي مشهور دانشمند، د ژبو، ادبیاتو او تاریخ تکړه څېړندوی، منلی شاعر، ماهر ژورنالست او فرهنګي ټولنیز ملي شخصیت دی، هغه په پښتو او دري ژبو نظم او نثر لیکي او څېړني کوي، له عربی او روسی ژبو څخه یې علمي، څېړنیزې او ادبي ترجمې کړي دي، د یوسل پنځه ویشت په شاوخوا کښي علمي او ادبي آثار تالیفات او ترجمې لري او تر زرو زیاتې ټولنیزې او سیاسي مقالې او مرکې یې د هیواد او بهرنیو هیوادونو په رسنیو کښي خپرې شوي دي.

نوموړی د هېواد او بهر په ډېرو علمي _ ادبي څېړنیزو غونډو، سیمینارونو، سمپوزیمونو او کنفرانسونو کښي فعاله برخه اخستي دهو، او په دی لړ کښي یې پاکستان، هندوستان، عراق، تاجکستان، اوزبکستان، قزاقستان، روسیې، سپیني روسیې، اوکرائین، ګرجستان، ارمنستان، ملد او یې، جرمني، فرانسي، هالیند، بلجیم، پولیند، چک اوسلواکیې هېوادونو ته علمي فرهنګي سفرونه کړي دي.

**د پروفیسور خدمتګار یو لړ آثار**

*چاپ شوي کتابونه او رسالې:*

۱ په اسلام کښي د ښځو حقوق _ د مصرد ((المنار)) د جریدې د مدیر ، رشید رضا ، د ((الوحی المحمدي)) له کتاب څخه ترجمه _ د ۱۳۲۹ هـ ش چاپ ( د کابل مجلې په ۲۳- ۲۵۹ مه ګڼه کښي ).

۲. مصایب الدخان (د تمباکو زیانونه) _د مصر د ((الازهر)) د استاد سید محمد عبدالغفار الهاشمي الا فغاني د عربي کتاب ترجمه_ د ۱۳۳۲ هـ ش چاپ . ( په کابل مجله کښی ).

۳. اراده (روحیات) د پروفیسور غلام حسن مجددي له دري ليکني ځخه ترجمه او د آريانا دايرة المعارف د يو شمير نورو ارتيکلونو ترجمه_د ۱۳۳۲ هـ ش چاپ .

٤. شعر او ادب ـــ د پښتو د معاصر شعر او ادب تيوريکي څيړنه - ټولونه ، سريزه او اهتمام - د ۱۳۳۳ هـ ش چاپ . د پښتو ټولني له خوا .

٥. د زړهٔ راز ـــ د شعرونو لومړئ مجموعه _ د ۱۳۳٥ هـ ش چاپ، د مطبوعاتو مستقل رياست له خوا .

٦. پښتانه د علامه اقبال په نظر کښي ـــ ۱۳۳٥ هـ ش . د پښتو ټولني له خوا .

۷.ميرزا عبدالرحيم رحيمی (احوالواشعار) بزباندری ـــ ۱۳۳٥ هـ ش د تاريخ ټولني له خوا.

۸. پښتني خويونه _ ادبي ټولنپوهنيزه څيړنه _ ۱۳۳٥ هـ ش د مطبوعاتو د مستقل رياست له خوا.

۹. د ملنګ جان خوږې نغمي ـــ ټولونه ، سمون ، سريزه او ترتيب _ ۱۳۳٥ هـ ش . د پښتو ټولني له خوا، دوهم چاپ له زياتونو سره _ ۱۳٤۸ هـ ش . د پښتو ټولني له خوا.

۱۰. خوږې ترخي _ د ادبي او انتقادي نثرونو مجموعه_د ۱۳۳٦ هـ ش چاپ، په کابل مجله کښي او د ځانله کتاب په بڼه ـــ د ۱۳۹۰ هـ ش چاپ پخپله د ليکوال په مالي لګښت .

۱۱. علمي از ميښتونه په ساده و سايلو _ ساينسي درسي مرستيال _ د موريس پارکرليکنه _ د استاد غلام علي آيين له دري ترجمي ځخه پښتو ترجمه _ ۱۳٤۱ هـ ش، د پوهني د وزارت له خوا .

۱۲ . راز _ د شعرونو دوهمه مجموعه _ ۱۳٤۲ هـ ش، د پښتو ټولني له خوا .

۱۳. دشوروي اتحاد سفر (يونليک) - دکابل مجلي د ٤- ۱۳٤۳ هـ ش په ګنو کښي .

۱٤. پښتو کلي څلورم ټوک _ درسي _ ۱۳٤٥ هـ ش . د پښتو ټولني له خوا .

۱٥. شرنګ _ د شعرونو دريمه مجموعه _ ۱۳٤٦ هـ ش، د اطلاعاتو او کولتور د وزارت له خوا .

۱٦. معاصر اديبان _ تذکره _ ۱۳٤۷ هـ ش . د همدغه کال په ((افغانستان کالنئ)) کښي .

دوهم چاپ د ځانله کتاب په بڼه-۱۳۹۲هـ ش - د خدمتګار په مالي لګښت ـــ

۱۷. توربريښ _ د پښتنو ملي تاريخي شفاهي سندرې ـــ ټولونه ، ترتيب او سريزه _ ۱۳٤۷ هـ ش، د پښتو ټولني له خوا ، دوهم چاپ _ ۱۳۸۷ هـ ش . د ختيځو سيمو د ژورناليستانو او ليکوالو د خپلواکي ټولني له خوا.

۱۸.پښتو لنډې کيسي_دلنډو داستانونو مجموعه_۱۳٤۷ هـ ش، د هېواد په ورځپانه کښي.

۱۹. د خوشحال خان خټک ربا عيات _ دا کادميک متن جوړونه _ له ملګرو سره _ ۱۳٤۹ هـ ش . د پښتو ټولني له خوا .۲۰ د پښتو ټولني رئيسان او غړي(تذکره)_۱۳٤٦هـ ش ، په کابل مجله کښي .

۲۱. ابربهاری _ د دري شعرونو مجموعه _ ۱۳٥۱ هـ ش، د خدمتګار په مالي لګښت .

۲۲. مرغلرې_د ادبي نثرونو مجموعه _ ۱۳٥۱ هـ ش، د خدمتګار په مالي لګښت .

۲۳. د پښتوپت _ د لنډو د استانونو مجموعه _ ۱۳٥۲ هـ ش، د خدمتګار په مالي لګښت.

۲٤. د خواجه عبدالله انصاري ژوند پېښي _ د ۱۳٥٥ هـ ش چاپ، د اطلاعاتو او کولتور د وزارت له خوا .

۲٥. ديونس خيبري ديوان _ نقل، سمون، سريزه، اکادميک متن او اهتمام _ ۱۳٥٦_ هـ ش، د اطلاعاتو او کولتور د وزارت له خوا.

۲٦. دپادري هيوز کليد افغانی _ سريزه ، تعليقات او لغتنامه _ ۱۳٥٦_ هـ ش، د اطلاعاتو او کولتور د وزارت له خوا .

۲۷. پښتانه شعرا ء څلورم ټوک ـــ۱۳٥۷ هـ ش. د افغانستان د علومو اکادمئ له خوا.

۲۸. پښتانه شعراء- پنځم ټوک ۱۳٦۷ هـ ش – د افغانستان د علومو اکادمۍ له خوا .

- دوهم چاپ – په ((پښتانه شعراء- بشپړ متن)) کښې – د ښاغلي مطیع الله روهیال په زیار – د علامه رشاد د خپرندویي ټولنې له خوا – کندهار – ۱۳۹۱ هـ ش.

۲۹. پښتانه شعراء – شپږم ټوک – ۱۳۹۱ هـ ش د افغانستان د علومو اکادمۍ له خوا.

۳۰. پښتانه شعراء – اووم ټوک – ۱۳۹۲ هـ ش – د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا.

۳۱. د افغانستان سفر _ له روسي نظم څخه پښتو منظومه ترجمه _ ۱۳۵۷ هـ ش . د اطلاعاتو او کولتور د وزارت له خوا .

۳۲. پښتو چاپي آثار _ ټولونه ، اوډنه او سریزه _ ۱۳۵۷هـ ش، د اطلاعاتو اوکولتور د وزارت له خوا .

۳۳. د ګلوکر – د شعرونو پنځمه مجموعه _ ۱۳۵۹ هـ ش، د هېواد د ورځپاڼې له خوا .

۳٤. د چکوسلواکیې او پولینډ سفر (یونلیک) – ۱۳۵۹ هـ ش، د هېواد د ورځپاڼې په پاڼو کښې .

۳۵. یوه هفته په اوزبکستان کښې (یونلیک) – د ((دوستۍ مجلې)) د ۱۳٦۰ هـ ش کال په پنځمه ، شپږمه ګڼه کښې.

۳٦. څورب او خوار _ له روسي څخه د انتون چیخوف د داستانونو ترجمه _ ۱۳۵۹ هـ ش، د هېواد د ورځپاڼې له خوا.

۳۷. د زړه آواز _ د شعرونو انتخابي مجموعه ۱۳٦۳ هـ ش، د افغانستان د علومو اکادمۍ له خوا .

۳۸. شفق _ د شعرونو مجموعه _ ۱۳٦۳هـ ش، د افغانستان دلیکوالو د ټولنې له خوا .

۳۹. تذکرة الشعرا ء _ تدوین ، سریزه او حواشي _ ۱۳٦۳ هـ ش، د هېواد د ورځپاڼې له خوا .

٤۰. د باچا خان لیکونه لومړی ټوک _ ټولونه، اوډنه، سریزه او حواشي _ ۱۳٦۳ هـ ش د قومونو او قبایلو د وزارت له خوا

٤۱. زمونږ وطن د جرګو وطن _ تاریخي _ ۱۳٦٤هـ ش، د افغانستان د علومو اکادمۍ له خوا .

٤۲. د سولې اوآز ادۍ قهرمان خان عبدالغفار خان _ تذکره _ ۱۳٦٦ هـ ش د قومونو او قبایلو د وزارت له خوا .

٤۳. د بابا مشالونه _ د باچا خان وجیزې _ انتخاب، ټولونه او سریزه - ۱۳٦٦ هـ ش د قومونو او قبایلو د وزارت له خوا.

٤٤. د اخلاص هدیه _ د خان عبدالغفار خان په باره کښې شعرونه _ ټولونه ، اوډنه او سریزه _ ۱۳٦٦ هـ ش د قومونو او قبایلو د وزارت له خوا.

٤۵. د سولې او تفاهم د لیاري مبلغ _ دوکتور سعید افغانی _ تذکره _ ۱۳٦٦ هـ ش .

٤٦. سوله او سلام د اسلام په رڼا کښې _ دیني څېړنه _ ۱۳٦۷هـ ش - د علماء و او روحانیونو د ټولنې له خوا .

٤۷. د خان عبدالغفار خان اندونه او انځورونه _ ټولونه ، اوډنه او سریزه _ ۱۳٦۸ هـ ش د قومونو او قبایلو د وزارت له خوا.

٤۸. د پاکستان اسلامي ماهیت . . . _ تاریخي _ ۱۳٦۸هـ ش، د هېواد د ورځپاڼې له خوا .

٤۹. د ملي ادب او ژور نالیزم خادم _ د استاد قیام الدین خادم تذکره _ ۱۳٦۸ هـ ش د افغانستان د ژورنالیستانو د ټولنې له خوا .

۵۰. فراقنامه _ منظومه _ ۱۳۷۸هـ ش د ښاغلي اولسمل په مالي مرسته .

۵۱. زما استاد الفت _ تذکره او ادب څېړنه _ ۱۳۸۰هـ ش، د الفت اکادمۍ له خوا .

۵۲. خوشحال خان او یو ځوفرهنگیالي ختک _ تذکره او ادب ځیرنه ۱۳۸۰ هـ ش - په بلجیم کښې د افغانانو د فرهنگي ټولنې له خوا .
۵۳. ادبي سوغات ــ ۱۳۸۰ هـ ش ــ د الفت اکادمۍ له خوا .
۵٤. گلنامه _ بولـله _ ۱۳۸۱هـ ش د خدمتگار په مالي لگښت .
۵۵. د ملي ادب او ژور نالیزم یو هیر شوی خدمتگار شمس الدین قلعتکی _ تذکره _ ۱۳۸۱هـ ش . د جمال ناصر پرهیز په مالي مرسته .
۵٦. ترنم دل _ مجموعۀ اشعار دری _ ۱۳۸۱هـ ش د برکت الله کمین مجددي په مالي مرسته. دوهم چاپ له زیاتونو سره ــ ۱۳۹۳ ــ د شاعر په مالي لگښت.
۵۷. ویرني _ د شعرونو مجموعه _ ۱۳۸۱هـ ش د جمال ناصر پرهېز په مالي مرسته .
۵۸. خدمتگار د فقیر خېل په کتب خانه کښې _ خاطرې او ځیرنې _ ۱۳۸۲ هـ ش - د میا وکیل شاه فقیر خیل په زیار او مالي مرسته.
۵۹. د علم قرائت ضابطه ــ ضبط، ثبت، سریزه او اهتمام ــ د ۱۳۸۳ حمل ــ د خدمتگار په مالي لگښت.
٦۰. د قرآن شریف ځینې خطي نسخې _ تجویدونه ، تفسیرونه ، مفسران او مدرسې _ ۱۳۸۳هـ ش د خدمتگار په مالي لگښت .
٦۱. د بیاض دیوان _ نقل، سمون، حاشیې او سریزه ( اکاډمیک متن) _ ۱۳۸۳ هـ ش - د الفت اکادمۍ له خوا .
٦۲. زه ، ملنگ جان او خوږې نغمې _ تذکره او خاطرې _ ۱۳۸۳ هـ ش د خدمتگار په مالي لگښت .
٦۳. د باچا خان لیکونه _ دوهم ټوک _ ټولونه، اوډنه، سریزه او حواشي ۱۳۸٤هـ ش - د خدمتگار په مالي لگښت. د لومړي او دوهم ټوک یو ځای دوهم چاپ _ ۱۳۸۷ هـ ش -
په جرمني کښې د افغانستان د کولتوري ودې ټولنې له خوا .
٦٤. بشریت مجبور ورنجور در آستانۀ هزارۀ سوم میلادی _ اجتماعی سیاسی _ ۱۳۸٤ هـ ش - د خدمتگار په مالي لگښت.
٦۵. پښتو پالنه او ژب ځیرنه _ ۱۳۸٤ هـ ش د ښاغلو فضل الله رښتین او نعمت الله بختاني په مالي مرسته .
٦٦. حماسه ویونکی مبارز شاعر اجمل ختک _ د دوکتور عارف عثمان لیکنه ــ د خدمتگار ایډیټ ، سریزه او اهتمام _ ۱۳۸٤هـ ش - د لوړو زده کړو د وزارت له خوا .
٦۷. د سید جمال الدین افغان د ژوندانه هدف _ ۱۳۸۵ هـ ش، د اطلاعاتو او فرهنگ د وزارت له خوا .
٦۸. د هیلي د هیلۍ سپین وزر _ بدیعي ترجمې _ ۱۳۸٦هـ ش، د خدمتگار په مالي لگښت.
٦۹.ددین ستوری مولانا نجم الدین دهډي آخوانزاده _ ۱۳۸٦هـ ش - په جرمني کښې د افغانستان کولتوري ودې ټولنې له خوا. ستارۀ دین مولانانجم الدین آخونزادهء هده _ ترجمۀ دری محترم فضل الرحمن فاضل _ ۱۳۸۷ هـ ش د حج او اوقافو د وزارت له خوا.
۷۰. د سپین غره په لمنو کښې _ سیاسي ، ټولنیزې لیکنې ۱۳۸٦ هـ ش - د حاجي محمد حسن حسام په مالي مرسته .
۷۱. شجرۀ پیر پټان _ مرتب : غلام حبیب نوابي _ تصحیح ، تنقیح ، ایډیټ ، مقدمه او اهتمام _ ۱۳۸٦ هـ ش، د اطلاعاتو او فرهنگ د وزارت له خوا .
۷۲. د گلکځونو په ارمان _ د ځلوریزو مجموعه _ ۱۳۸۷هـ ش په کابل کښې د گویټه انیستیتوت له خوا .
۷۳. پیر افغانان د حکیم الله تصور لیکنه _ ایډیټ ، سریزه او چاپځارنه _ ۱۳۸۷- د عتیق الله سخي په مالي مرسته .

۷٤. بازتاب رویداد های تاریخی در سروده های اولسی پشتو _ ۱۳۸۷هـ ش - د خدمتګار په مالي لګښت.

۷۵. دوه ادبي ليکونه _ ۱۳۸۷ هـ ش په جرمني کښي ((د حق لار)) ټولني له خوا .

۷٦. د کوشاني دورې ځيني يادګارونه _ تاريخي لرغون پوهنه . ۱۳۸۷ هـ ش - د خدمتګار په مالي لګښت .

۷۷. د حج سفر _ کيسي او خاطرې _ ۱۳۸۷ هـ ش - د حاجي شفيق الله بختاني او ورونو په مالي مرسته.

۷۸. فخر افغان او افغانستان _ ۱۳۸۷ هـ ش - په جرمني کښي د افغانستان دکولتوري ودې ټولنه – دآغلي ((مينه)) غريب په مالي مرسته.

۷۹. د نارنج بهار _ تاريخي ، ادبي ، څيړنيز او طبي _ ۱۳۸۸ هـ ش په بلجيم کښي د افغان فرهنګي ټولني له خوا – د سيد ميرويس سيدي په مالي مرسته.

۸۰. ابن سينا اديب طبيب _ ۱۳۸۸ هـ ش – په جرمني کښي ((د حق لار)) ټولني له خوا .

۸۱. يودوه ګوتي کاغذ _ د خدمتګار مکتوبات - ( په دريو ټوکونو کښي ) د۱۳۸۸هـ ش چاپ - د جمال ناصر پرهيز په مالي مرسته .

۸۲. رنګين غوندي عذاب _ د اجمل ښتک ژوند او فن د ۱۳۸۸ د کب شلمه _ کابل د افغانستان د علومو اکادمي د سيمه ييزو مطالعاتو د مرکز له خوا. دوهم چاپ د ۱۳۸۹ د وري شلمه _ پيښنور يونيورسټي بک ايجنسي له خوا.

۸۳. تذکره نویسئ معاصر به ارتباط شعر دری در افغانستان، د خدمتګار په مالي لګښت.

۸٤. سيدو ملنګ _ موزيکال اصلاحي ډرام په څلور وپردو کښي _او د هنري موضوعاتو په باره کښي څو ليکني _ ۱۳۸۹ هـ ش د خدمتګار په مالي لګښت.

۸۵. د خدمتګار يوه ادبي موندنه ( کشف ) _ ۱۳۸۹ هـ ش د خدمتګار په مالي لګښت.

۸٦. د ستر خدايي خدمتګار ویاړلي يادونه _ ۱۳۸۹ هـ ش د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارت له خوا .

۸۷. د بينا د ماشومانو لوبي – د خدمتګار ټولونه ، سمونه ، اوډنه ، سريزه او چاپڅارنه – د دانش خپرندويه ټولنه – ۱۳۸۹هـ ش.

۸۸. د خدمتګار د زړه آواز – د اشعارو کليات – په دوو ټوکونو کښي – ۱۳۹۰ هـ ش – د خدمتګار په مالي لګښت .

۸۹. رساله (تعاملات حقوقيه و جزائيه ملی - نگارش عبدالرحمان پژواک، استنساخ، تصحيح ، تنقيح، پيشگفتار، حواشی و هزينه چاپ – ۱۳۹۰هـ ش .

۹۰- مناجات کُن فيکون و شعر هايی از شاعران نامور و گمنام – استنساخ ، تنقيح ، ترتيب ، حواشی ، مقدمه، اهتمام و هزينه چاپ – ۱۳۹۰.

۹۱. د خدمتګار د ژوند سفر – لومړئ دوره - نازولی ماشوم – ذکي شاګرد – ۱۳۹۱ هـ ش – د خدمتګار په مالي لګښت .

۹۲. د خدمتګار د ژوند سفر- دوهمه دوره- د ويښ زلمو له کاروان سره ، دافغانستان د علومو اکاډمی ، ۵۳۲ مخونه ۱۳۹۴، هـ ش .

۹۳- د عشق سوغات – د کمين کليات – ترتيب ، ايديټ، اوډنهاو سريزه – ۱۳۹۱ هـ ش – د بي بي حاجي د کمين صاحب د مېرمني له خوا.

۹٤. ديوان خليفه قاسم قاسمي چهار باغي _ نقل ، تنقيح، مقدمه و تعليقات (متن اکادميک) – د خدمتګار په مالي لګښت – ۱۳۹۲هـ ش.

۹۵- د عبدالقدوس پرهېز- ادبي ليکنې- ايډيټ، حاشيې، سريزه او چاپخارنه- د جمال ناصر پرهېز په مالي لګښت ۱۳۹۲ هـ ش.

۹٦- د غرونو پژواک ــ د خدمتگار په مالی لګښت ۱۳۹۲ هـ ش .

۹۷- راحت زاخيلی- د ناراحتي ټولنې شاعر - د خدمتگار په مالي لګښت ــ ۱۳۹۲ هـ ش .

۹۸- د ښاغلي پرهېز ((ژمني ګلونه)) ــ ايډيټ، سريزه او چاپخارنه-۱۳۹۲ هـ ش - د ښاغلي جمال ناصر پرهېز په مالي لګښت.

۹۹- د دين څو ستوري ، د مصر په عر بي جمهوريت کې دافغانستان سفارت فرهنگي څانګه ــ ۱۳۹٤ هـ ش کال ۲۹۴ مخونه .

۱۰۰- د ادب څو ستوري ، د مصر په عر بي جمهوريت کې دافغانستان سفارت فرهنگي څانګه ــ ۱۳۹٤ هـ ش کال ۱۸۲ مخونه .

۱۰۱. تازه ګلونه _ د معاصرو شاعرانو د شعرونو انتخابي مجموعه _ انتخاب _ ټولونه ، سمون ، اوډنه او اهتمام، دسرحدونو او قبايلو چارو وزارت، ۱۳۹۴ هـ ل کال .۵۹۵ مخونه.

۱۰۲- پير هرات خواجه عبدالله انصاري لنډه تذکره ،داطلاعاتو او فرهنگ وزارت، ۱۳۹۴ هـ ل کال، ۹۴ مخونه .

۱۰۳- مقايسه نثر خواجه عبدالله انصاري پير هرات و با يزيد انصاری پير روشان ،افغان مسلکي مطبعه، ۱۳۹۴ هـ ل کال .

۱۰۴- مولانا منصور انصاری ، د مصر په عر بي جمهوريت کې دافغانستان سفارت فرهنگي څانګه، ۱۳۹۵ هـ ش کال ۹۲ مخونه .

***ناچاپ آثار :***

۱۰۵. افغان ، افغانستان او اقبال .

۱۰۶. د مرغلرو لړيون _ ادب څېړنه _

۱۰۷. دستور وانجمن _ څېړې او څېړنې .

۱۰۸. د کتابو کتنه _ بيبليو ګرافي .

۱۱۰- پښتانه شعراء ــ اتم ټوک (د کار لاندې) .

۱۱۱. در گسترۀ ادب دری ، پژوهشهای ادبی .

۱۱۲. د ملي شاعر ژوند او هنر ( د ملنګ جان په باره کښې )

۱۱۳. د هېواد د بيا رغولو په هيله _ ټولنيزې سياسي ليکنې .

۱۱۴. د احمد ګل شاعري .

۱۱۵. د ملک نعيم سندري .

۱۱۶. د خاطراتو دفتر .

۱۱۷. فِغانستان _ د شعرونو مجموعه .

۱۱۸. تشدد او نفرت _ څلوريزې .

۱۱۹. د زړه زخمونه _ بوللـه .

۱۲۰. د ميراث ضابطه _ فقهي .

۱۲۱. د عراق سفر .

۱۲۲. د بن سفر .

۱۲۳. چکچکستان زنده باد ! ( خاطرې )

۱۲۴. د خدمتگار د کتابخونې خطي او نادرې نسخې ، ببلیو گرافي.

۱۲۵- افغاني نومونه.

**په اخر کښې پروفیسور صاحب بختاني خدمتګار ته د الله جل جلاله څخه د لا توفیق، اوږده عمر، او په آخرت کښې ددی لوي خدمت بدل ورکولو دعاء کوم، د ځوانانو او په خاصه توګه د محصلینو څخه هیله کوم چې د پروفیسور عبدالله بختاني کتابونه ولولئ، د بختاني خدمتګار په آثارو کښې که د هرفن کتاب چې تاسو اوغواړئ پیدا کولای شی، چې د بختاني نه ستړې کیدونکو هڅو درک درته معلومیږي، د لویو هستیو د ژوند څرک در معلومیږي، او د کتاب لوستلو، مطالعه کولو حوصله مو زیات ولی شي.**

**سرچینې:**


۱ ددین څو ستوري

۲ د ادب څو ستوري

۳ افغان، افغانستان او اقبال

۴ مولانا منصور انصاري

۵ د څېړنپوه عبدالرحیم بختاني لیکنه.

۶ د الحاج امین الدین سعیدي لیکنه.